مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۴/۰۳/۰۹

# د امباني واده
# او
# په غزه و افغانستان کې له ولږې مړه ماشومان!

## له عاطفې او اخلاقو سره پردې شوی بشریت؟

کله چې په یوه ورځ او په یوه رسنۍ کې دوه خبرونه ولولي:

۱ـ «د روغتیا نړیوال سازمان رئیس تدروس ادهانوم ګبریسوس ویلي: د غزې په شمال کې ماشومان له لوږې مري. په یوه ورځ کې شپاړسم ماشوم په داسې حال کې مړ شو، چې وجود یې د خوړو او اوبو له نشت څخه د کمزورۍ روستي برید ته رسېدلی و...»

یو کوشنی زړه وردېد، ډوډۍ او اوبه نه وې.

۲ـ «د هیندي میلیاردر موکېش امباني د زوی انانت امباني په واده کې یوازې یوې سندرغاړې ریحانا د یوې شپې سندرو لپاره اووه میلیونه ډالر تر لاسه کړل، په دې واده کې د خوړو د ډولونو مینیو ۵۰۰ ډوله وه، له ټولې نړۍ څخه لوی سرپخوونکي او سینګاروونکي راغوښتل شوي و...»

د ښاغلي امباني واده دې مبارک شي، زموږ پرې د نړۍ ټولې خوښۍ پېرزو دي، خو د غزې، افغانستان، افریقا، یوکراین او ... له لوږې، زخمونو او محرومیت څخه مړه کېدونې ماشومان به څنګه کوو؟

د ریحانا سندرې خو به واورو، مګر چې د ښاغلي تدروس ادهانوم د خبرداري غږ په کې ورک شي، نو بیا؟

د کابل و کندهار و ننګرهارو هرات د هغو کوشنیو نجونو د ژړا غږ په دې سندرو او نڅاګانو کې هیڅوک نه‌اوري، چې په خپلو ښوونځیو پسې ژاړي.

دا دوه خبرونه په یوه ورځ خپاره شوي او ښیي، چې د یوویشتمې پېړۍ انسانان لاهم له عاطفې او اخلاقو پردي پاتې شوي دي.

زما د پورته لیکل شویو جملو په وړاندې به شوني غبرګونونه ښایي داسې وي:

- شخصي شتمني د هرچا خپل ملکیت دی او حق لري هرډول چې یې زړه وي، ویې لګوي.
- دا یوازې یوویشتمه پېړۍ نه ده، بلکې د تاریخ په اوږدو کې د انسانانو د ژوند توپیرونه همدومره وو.
- ستا شاعرانه ګیلې د اوسنی زماني له پرګماتیکو سیاستونو سره سمون نه لري.
- «اخلاق» او «عاطفه» نسبي او نسبتي مفاهیم دي او له مکان، زمان، ټولنیزو او فرهنګي شرایطو او موقعیتونو سره توپیر مومي.
- سیاست د ګټو او ځواک موندلو لوبه ده او په دې کې اخلاقو، عاطفې او زړه سوي ته ځای نشته...

او ښایي داسې ګڼ نور دلایل هم وي، چې زما اندېښنه به بې‌مانا کوي.

د روم د مریانو مشر سپارتاکوس، د مریيتوب په وړاندې پاڅون وکړ، ویل یې: ولې مریيان انسانان نه ګڼل کېږي او د ځناورو په شان سره جنګول کېږي؟ تر دې چې ووژل شي یا خپل بل ملګری ووژني؟ (ګلاډیاتورانو ته اشاره).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولۍ

هغه مهال د سپارتاکوس دا پوښتنه بادارانو ته مسخره ښکاره شوه. ان ګڼ مریيان حیران ول، چې سپارتاکوس څه وايي؟ رومي اشرافو روحانیون وهڅول چې د مرییانو پاڅون تکفیر کړي.

د دغه پاڅون منطقي پوښتنو شاوخوا اوولس یا اتلس پیړۍ روسته د امریکې په وچه کې هغه وخت بیا انګازې وکړې، چې تورپوستو د مریيتوب زنځیرونه وشکول.

ایا مریيتوب له منځه ولاړ؟ نه، بلکې بڼې يې بدلې شوې. نننی انسان روان دی، چې د خپل مخلوق (تکنولوژي) په مریيې بدل شي.

کټ مټ هغسې، لکه په جزیرةالعرب کې چې د نجونو ژوندي ښخول د اسلام له سپیڅلي رڼا سره منع شول، خو په یویشتمه پیړۍ کې له ښوونځي و پوهنځي څخه په محرومولو يې د ژوندي ښخېدلو دود دوام وکړ، یوځه په بدله بڼه . له پوهنې د نجونو محرومول د هغوی د ژوندي ښخېدا په مانا ده.

د عاطفې او اخلاقو هېرول هم همداسې کیسه ده. د لویو امپراتورانو د عیاشیو، لګښتونو او تجمل له کیسو تاریخونه ډک دي، چې په وړاندې يې میلیونونه انسانان له ولږې و محرومیت څخه مړه کېدل. د دواړو نړیوالو جګړو پرمهال، چې د څو سیاسي ایزمونو په خاطر سلګونه میلیونه انسانان ووژل شول، ټپیان، بې‌پته، بې کوره، کډوال او لیوني شول دا ټول ښيي، چې بشریت د تاریخ په اوږدو کې د خپلو ګټو او ځواک لپاره عاطفه و اخلاق تر پښو لاندې کړي دي.

خو اوس ولې دا کیسه راپورته کوو؟

موږ د نړیوالتیا Globalization په زمانه کې یو. ویل کېږي، چې نړۍ په یوه کوشني کلي بدله شوې ده. «نړیوال نظم» ، « نړیوال ارزښتونه»، (نړیوال انسانمحور کنوانسیونونه» او بالاخره «بشري حقونه» داسې مفاهیم دي، چې په نړۍ کې تقریباً هروګړي اورېدلي دي.

موږ له دومره بداخلاقه تاریخي دوران څخه تېرېږو، چې ان همدغه ښه مفاهیم هم د انسان په ضد کارېږي. د سیاسي ګټو، پانګې، ځواک، امنیتي – استخباراتي برلاسي او نړیوال پرستیژ لپاره له پورتنیو مفاهیمو سره لوبې کېږي او په نړۍ کې مېشت بشریت ښه په دې حقیقت پوهېږي. لوی قدرتونه هم پرې پوهېږي، خو اعتراف نه‌پرې کوي. یعني لوی قدرتونه بشریت ته دروغ وايي او دروغ ویل تر ټولو لویه بداخلاقي ده.

افغانستان، غزه، یوکراین، افریقا، سوریه، عراق او ګڼې نورې بېلګې ستاسو په مخ کې دي، وګورئ چې پانګوالو زبرځواکونو په دغو جغرافیو کې له یادو اخلاقي – عاطفي مفاهیمو سره څنګه چلند وکړ؟

د حکومتونو، پانګوالو، پوځیانو او سیاسیونو لپاره عاطفه او اخلاق مانا نه لري، دوی یوازې ګټې او اقتدار پېژني. دا سمه ده، خو زما خبره بل ځای ده.

زه اوس راځم اصلي کیسې ته.

د نړۍ فرهنګي شخصیتونه (نخبه‌ګان) ولې د عاطفې په وچکالۍ، د اخلاقو په نس‌ناستې (اسهال) او د انسانیت په فقر اخته شول؟

انسانپلوي فیلوسوفان څه شول؟

سارتر چیرې دی، چې د نوبل جایزه د دې لپاره رد کړي، چې د بداخلاقه پانګوالی نښه يې بلله؟

بیتلي او هیپي تفکر څه شو، چې حاکم اخلاق يې له دې امله مسخره کول، چې د واکمنو له خوا یوازې د لاس لاندې پوړونو د رام کولو احکام يې بلل؟ دوی د حاکمو اخلاقو او موازینو په وړاندې داسې پاڅون کاوه، چې زیان يې دوی ته رسېده. دوی په دې باور و، چې له هر ډول التزام څخه چې ګټه يې د ټولنیز نظم په بڼه یوازې واکمنو ته رسیږي، ځان خپلواک بولي. د دوی لپاره اصل «بل انسان» ته زیان نه‌رسول و.

د بشري عاطفې د غرېپورته کوونکیو شاعرانو ستوني پرې شوي دي. جبران خلیل له خپل «پیامبر» سره ورک دی او د موسیقۍ د هغو یاغي ډلو د جازونو قهرجن دربهار چېرته دی، چې د مجللو تالارونو پرځای به يې د وړیو ترږیو د خټیونو کوډلو په منځ کې ترانې ویلې، چې هم د وږیو ماشومانو په شونډو خندا خوره شي او هم يې د کنسرت له عاید څخه د هغوی ګېډو ته ډوډۍ واخلي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

«د نړۍ په تر ټولو ګرانبیه ودونو کې نښېدونکیو هنرمندانو» ولې ټول هغه وړي، تږي او محروم ماشومان هېر کړل، چې په غزه و افغانستان کې مري؟

دوی خو سیاستوال او پانګوال هم نه وو. دوی خو ارزښتونه پېژندل، دوی خو د عاطفي استازي ګڼل کېدل.

ولې د انسان ابدي ورکې (انساني عاطفي) د راژوندي کولو لپاره ادبیات نه پنځیږي؟

د افغانستان د ښځو له محرومیت څخه ولې سیاسي – ابزاري ګټنه (استفاده) کیږي؟

هغوی چې په لوی لاس د یوې تورې تاریخي هوکړې په لاسلیک سره د افغانستان ښځې له خپلو ټولو حقونو څخه محرومې کړې، نن پرې د تمساح اوښکې تویوي او په مبهمه بڼه په دې نامه جایزې ویشي؟ ولې؟

ځکه په سیاست کې د «وجدان» یا « ضمیر» په نامه هیڅه نشته .د نړۍ سیاست بې وجدانه دی او یوازې زور پېژني .نه‌پوهېږم د ماکیاولي له لارښوونو ناسمه ګټه پورته کیږي، که د سیاست پېژاند یې همداسې رااخیستی؟

څه باید وشي؟

ایا یو نړیوال فکري، فرهنګي او معنوي نهضت راپیلېدلای شي، چې اخلاق و عاطفه هم نړیوال کړي؟

د بشري حقونو کرښې د لویو قدرتونو له یرغمله راخلاص کړي، مړې کرښې یې له سپینو کاغذونو راوباسي او د ملګرو ملتونو په نامه د سیاسي نڅاګرې د پایزېبونو له ګونګرو څخه د بشري حق ارزښت وژغوري؟

دا غږ باید پورته شي. د یوه فرهنګي نهضت په بڼه.

د پانګې، ګټو، استخباراتو، اقتدار، وسلو او دروغو له مرییتوب څخه د بشریت د ژغورنې یو بل پاخون بویه!

ښایي دوه زره کاله روسته پایله ولري، خو لږ ترلږه راپیل خو باید شي.

دا کیسه به اوس ناشونې برېښي، د مرییتوب پای هم یو مهال ناشونی برېښېده او د نجونو د ژوندي خښېدو کیسه هم. هیله و فکر یې چې رامنځته شو، یو مهال بشریت ځان ورورساوه.

وخت یې نه دی، چې د دې انساني هیلې لپاره چیغه پورته شي، چې:

د نړۍ «انسانانو» سره یو شئ!

او

د دې لیکنې په پیل کې د دوو خبرونو په لوستلو له ځانونو سره فکر وکړئ!

وګورئ، چې دا فکر مو چېرته رسولای شي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ